۱۶ جوزا ۱۳۸۱
دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون

---

مطبوعاتي اعلاميه

**د لارو بندول داسلامي او بشري حقونو د ارزښتونو خلاف كار دی**

کابل: د ۱۳۸۹لمریز کال د غبرگولي ۲۷مه

دافغانستان دبشري حقونو خپلواك كمېسيون د طالبانو دا پريكړه چې ځيني عمومي او د يو شمير ولسواليو لارې به د خلكو پر مخ بندوي د اسلامي او بشري حقونو دارزښتونو خلاف كار گني او په كلكه يې غندنه كوي.

د بشري حقونو يو مهم اصل د گرځيدو او تگ راتگ آزادي ده، په هغې باندې بنديز او يا محدوديت لگول د بشري حقونو څخه ښكاره سرغړونه ده. دهيواد داساسي قانون د ۳۹مادې او دسياسي او مدني حقونو د نړيوال تړون د ۱۲مادې سره سم هرڅوك حق لري چې د هيواد هر گوټ ته په آزاده توگه تگ راتگ وكړي.

د ژينو دنړيوال تړون په دريمه ماده كې چې د خلكو څخه دملاتړ په اړه دی راغلي دي چې دښمني ډلې بايد هڅه وكړي هغه كسان چې په مستقيمه توگه په جگړه كې گډون نه لري پرته د نژادي، رنگ، مذهب، عقيدې، جنس، اصل او نسب له توپير او د پانگې په نظر كې نيولو سره به زيان نه ورسوي.

د طالبانو ډلو په تيرو كې دهيواد په يو شمير ولايتونو لكه هلمند، كندز، نورستان، لارې بندې كړي وي. په دې ورستيو كې يادې شوې ډلې د يو ليك په ترځ كې د جاغوريو د ولسوالی له خلكو غوښتې چې د غبرگولي مياشتې د ۲۵نه وروسته دې د جاغوريو او قرباغ ترمنځ په لارې تگ راتگ نه كوي. د بشر د حقونو د نړيوالوسندونو سره سم هيڅوك يا ډله ددې حق نه لري چې د خلكو پر تگ راتگ بنديز او يا هم محدوديت ولگوي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون د طالبانو او نورو هغه گروپونو څخه چې په جگړه كې ښكېل دي په كلكه غواړي چې د خلكو ازاديو ته دې درناوی وكړي او په لارو كې د خلكو خنډ ونه گرځي.

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك كمېسيون

كابل مركزي دفتر